د $f(x)=\frac{3}{2}x$ تابع ګراف به وضعیه قیمتسیستم کې وکاږی. په دې کربنه د هندسی مثلث په مرسته یو عمود کواودینات په سرچینه وباسی او جګوالی یې ولولی یا په ګوته کړی.

دg کربنې جګوالی: $a_{1g}=\frac{3}{2}$.ګومان: د کربنې h چګوالی: $a_{1h}=-\frac{2}{3}$ د a_{1h} منفی برعکس ارزښت د a_{1g} په ګوته کوي یا انځوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د یوه منفي کسري جګوالي حالت څخه غږیږو.

دا په دې معنا چې: $a_{1h} = -\frac{1}{a_{1g}}$ همداسې $a_{1h}.a_{1g} = -1$ یا $a_{1g} = -\frac{1}{a_{1h}}$

جمله:

د دوه یو په بل عمودو یا ولاړو کربنو g او h جګوالي لپاره صدق کوی:

$a_{1h} = -\frac{1}{a_{1g}}$ همداسې $a_{1h}.a_{1g} = -1$ یا $a_{1g} = -\frac{1}{a_{1h}}$

کربنې یو په بل عمود دي.



(جګجمله = Höhensatz)

دg او h جګوالي لیکل کیدی شي:

$a_{1g} = \frac{q}{h}$ او $a_{1h} = -\frac{p}{h}$

$a_{1g} \cdot a_{1h} = \frac{q}{h} \cdot (-\frac{p}{h}) = -\frac{q \cdot p}{h^2}$ (1)

د جګجملې له مخې دی

$h^2 = p.q$

په (1)کې کیږدی

$a_{1g} \cdot a_{1h} = -\frac{q \cdot p}{h^2} = -\frac{h^2}{h^2} = -1$

$\Rightarrow a_{1g} \cdot a_{1h} = -1$

بیلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه یو بل ته ولاړ ګونجیز یا قایم الزاویه یې ځغلنده کربنې g او h غوڅټکی یا د قطعه کیدو ټکی $S(2\mid 3)$ ورکړ شوي، چیرته چې د g جګوالی $a_{1g}=\frac{1}{2}$ دی.	غوښتنه: د g کربنې تابعمساوات g(x) . د h کربنې تابعمساوات h(x). د g او h ګراف د $D=\{x\mid -5\le x\le 4\}_{\mathbb{R}}$ لپاره
$a_{1g}=\frac{1}{2}$ له $g(x)\perp h(x)$ املې لرو $a_{1h}=-2$	
$g(x)=\frac{1}{2}x+a_{0g}$ او $h(x)=-2x+a_{0h}$	
$S(2\mid 3)\Rightarrow g(2)=3\Leftrightarrow \frac{1}{2}\cdot 2+a_{0g}=3\Leftrightarrow a_{0g}=2$	
$S(2\mid 3)\Rightarrow h(2)=3\Leftrightarrow -2\cdot 2+a_{0h}=3\Leftrightarrow a_{0h}=7$	
$\Rightarrow g(x)=\frac{1}{2}x+2$ und $h(x)=-2x+7$	

دا مخ نور تش دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$S(2|3) \Rightarrow g(2) = 3 \Leftrightarrow \frac{1}{2}\cdot 2 + a_{0g} = 3 \Leftrightarrow a_{0g} = 2$$
$$S(2|3) \Rightarrow h(2) = 3 \Leftrightarrow -2\cdot 2 + a_{0h} = 3 \Leftrightarrow a_{0h} = 7$$

$$\Rightarrow g(x) = \frac{1}{2}x + 2$$

او $h(x) = -2x + 7$



2.3.3تمرینونه:

د دوه کربنو غوځټکی (د قطعه کیدو ټکی)
د دوه کربنو $g_1(x)$ او $g_2(x)$ توابع مساوات ورکړ شوي.
د دواړو کربنو د قطعه کیدو(غوځیدو) ټکی و ښایی او کربنې په یوه افقی-عمودي سیستم کې وښایاست.

اول - $g_1(x) = \frac{1}{2}x + 2 \qquad g_2(x) = -\frac{1}{2}x + 4$

دویم - $g_1(x) = 2x - 1 \qquad g_2(x) = -2x + 1$

دریم - $g_1(x) = \frac{3}{4}x - 4 \qquad g_2(x) = -\frac{1}{2}x - 1$

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورم - $g_1(x) = -\frac{1}{2}x + 2 \quad g_2(x) = \frac{1}{2}x + 3$

پځم - $g_1(x) = \frac{2}{3}x + 2 \quad g_2(x) = \frac{1}{2}x + 3$

شپږم- $g_1(x) = \frac{3}{4}x + 1 \quad g_2(x) = \frac{1}{2}x + 2$

یا دا لاندې

د دوه کرښو غوځټکی د دوه کرښو د $g_1(x)$ او $g_2(x)$ توابع مساوات ورکړ شوي :

د دواړو کښو غوځټکی وشمیرئ او کرښې په یوه بورت ولاړ سیستم (کواودینات سیستم) کې وکاږئ(رسم کړئ)

لومړی: $g_1(x) = \frac{1}{2}x + 2 \quad g_2(x) = -\frac{1}{2}x + 4$

دویم: $g_1(x) = 2x - 1 \quad g_2(x) = -2x + 1$

دریم: $g_1(x) = \frac{3}{4}x - 4 \quad g_2(x) = -\frac{1}{2}x - 1$

خلورم: $g_1(x) = -\frac{1}{2}x + 2 \quad g_2(x) = \frac{1}{2}x + 3$

پنځم: $g_1(x) = \frac{2}{3}x + 2 \quad g_2(x) = \frac{1}{2}x + 3$

شپږم: $g_1(x) = \frac{3}{4}x + 1 \quad g_2(x) = \frac{1}{2}x + 2$

د یوې $g_1(x)$ کرښې تابع مساوات ور کړ شوي دي.
و $g_1(x)$ کرښې ته د عمود کرښې تابع مساوات وټاکئ، که دا کرښه له P_1 ټکي تیره شي. د دواړو کرښو د قاطع ټکی یا غوځټکی وشمیرئ او دواړه کرښې په افقی-عمودی سیستم قیمت وضعیه سیستم کې رسم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوم – $g_1(x) = \frac{1}{2}x + \frac{3}{2}$

غواړو $g_2(x) \perp g_1(x)$ پیدا کړو، چې له $P_1(3|-2)$ تیریږي.

اتم – $g_1(x) = 2x - 1\,g$

غواړو $g_2(x) \perp g_1(x)$ پیداکړو ، چې له $P_1(-2|5)$ تیریږي.

نهم – $g_1(x) = -\frac{4}{5}x + 3$

غواړو $g_2(x) \perp g_1(x)$ پیداکړو ، چې له $P_1(-4|-2)$ تیریږي.

لسم – $g_1(x) = 2x + 3$

غواړو $g_2(x) \perp g_1(x)$ پیداکړو ، چې له $P_1(2|-3)$ تیریږي.

و 1 - 6 ته مفصلي بیلګې

د قیمتشمیرنې څخه کار اخستنه یا استعمالونه :

د مالک لپاره ډېره مهمه ده، چې د هغه یوه جنس تولید ست x وپیژني ، کوم چې په تولید کې منځ ته راغلي مصارف K د خرڅلاو څخه لاس ته راغلو E له لارې پوره کړي.

تعریف:

د ثابتو توکو سره د K(x) مصارفو تابع او تل لرلي مصارفو لپاره صدق وکړي:

ټول لګښت = K(x) د K تولید ست x + تل لرلي لګښت Kf

(c) ketabton.com: The Digital Library

$K(x) = k \cdot x + K_f$ که د توکو لګښت اوفیکس یا تل لرلي مصارف ثابت وي.

یادښت:

ټول لرلي مصارف د منځ ته راغلي لګښت تابع K(x) دي چې په یوه فابریکه کې د x تولید د ډېرۍ یوونونو یا ستې واحدونو (ME) یوه ضرب څخه منځ ته راغلي دي.

د دانې ارزښت بهتر یې قیمت k ټول قیمت دی د دانې په سر(دا اووښتونې یا متحول دانه قیمتونه هم بلل کیږي) .

ځای په ځای یا فیکس قیمتونه K_f هغه قیمتونه دي، چې هلته هم منځ ته راځي که تولید ونه شي (ګټه ورکونه، کرایه، بیمه، معاشونه او داسې نور).

پیژند (تعریف):

د لاس ته راغلو پیسو تابع E(x) په ثابت قیمت باور لري:

دخرڅلاو پیسې E(x)= قیمت P . ډېرۍ x یعنې E(x) = P.x

پام (یادونه) :.

هغه په نرخ یا قیمت p خرڅه شوې ډېرۍ یا ستې د لاس ته راوړنې ډېرۍ هم بلل کیږي.

تعریف:

د ګټې تابع G(x) لپاره باور لري:

ګټه: $G(x) = E(x) - K(x)$

(c) ketabton.com: The Digital Library

پام (یادونه) :

که د$G(x)$ نتیجه کمیزه یا منفي وي، فابریکه زیان کوي، که$G(x)$ زیاتیزه یا مثبت وي، نو فابریکه ګټه کوي.

که $G(x) = 0$ وي، نو لګښت$K(x)$ همدومره ستر دی، لکه لاس ته راوړنه$E(x)$.

دا ټکی د ګټې پوله Gewinnschwelle بلل کیږي.

بیلګه : یوه فابریکه،، ملفونونه (لاسي تلفونونه)،، جوړوي دانه په € 20 .

د فابریکې تللګښت د ورځې€ 60000 دی.

د هر ،،ملفون،، خرڅلاو قیمت په دانه دی€ 40.

فابریکه کړی شي د ورځې خورا زیات یا ماکسمال 4000،، ملفونه،، تولید کړي(د تولید توان یا کاپښیتي پوله).

الف – د کوم تولید ډېرې یا ستې سره فابریکه ګټه کوي؟

ب - د کوم تولید ډېرې سره فابریکه ماکسماله ګټه کوي؟

پ – دا حالت په یوه مناسب کواوردینات سیستم کې ګرافیکي انځور کړی.

الف - تابع مساوات ولیکی:

لګښت تابع : $K(x) = 20+60000$

خرڅلاوتابع:$E(x) = 40x$

ګټه تابع :

$$G(x) = E(x) - K(x) = 40x - 20x - 60000$$
$$= 20x - 60000$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ږدو: $G(x) > 0$

$$\Leftrightarrow 20x - 60000 > 0 \mid +60000$$
$$\Leftrightarrow 20x > 60000 \mid : 20 \Leftrightarrow x > 3000$$

د یوه له $x = 3000$ پورته،،ملفونونو،، د ورځي تولیدډپرۍ فابریکه ګټه کوي.

په $x = 3000$ تولید سره ګټه$E(x)$ دومره ده لکه لګښت$K(x)$.

$$K(3000) = 20 \cdot 3000 + 60000 = 120000$$
$$E(3000) = 40 \cdot 3000 = 120000$$

ب - په عظمي تولیدډپرۍ یا – ستې کي د ګټې پیداکونه $x_{Max} = 4000$.

$$G(4000) = 20 \cdot 4000 - 60000 = 20000$$

د ورځي د4000 .، ملفونو،، د تولید ګټه عظمي ده، دا .20000 € ده.

پ -



(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: له پورته کښته ته ژباړه: د لګښت تابع، د خرڅلاو تابع، د ګټې تابع
د ګټې شولۍیا پوله کیدی شي د ګټې په تابع هم د لګښت تابع د ګراف د غوټکي له لارې هم د خرڅلاو د ګراف سره پیدا کړای شي. د غوټکی x کواوردینات د ګټې شولي یا هغه ورشو چې ګټه به کې صورت نیسي).. دهو د y کواوردینات په دې ځای کې لګښت ورکوي.
د ډېرې - او پیسو یوونونه یا - واحدونه په یوه فابریکه کې د تولید ډېرې د لوړو دانو د تولید پروسه په ګوته کوي، د بیلګې په توګه د ورځې 1000 000 Cd- Rohlinge.
د تولید لګښت هم زیات وخت په میلینونو وي.

داسي ستر ګڼونه یا اعداد تل داسي ساده نه ګڼل کیږي. له دې امله د تولید شوو دانولپاره د ډېرې یوون یا – واحد کاروو او همداسي د لګښت پیسو واحدونو یا یوونونو لپاره هم.

د بیلګې په توګه کیدی شي1000 000 Cd- Rohlingeپه 10 ستواحدونو(ډېرې یوونویاME 10) کې سره راټول کړو، چیرته چې د ډېرې واحد د 100 000 دانو لپاره ځای په ځای شوی دی. یعني 100 000 دانې یو یوون یا واحد دی. همداسي لګښتونه د پیسو واحدونو(-یوونونو) ته سره راټولیږي، د بیلګې په توګه€ 9000 000 و9 د پیسو واحدونو(یوونونو(ته (9 GE).

پرته له دې د لګښت واحد(یوون) لپاره سړی په ټاکلې پیسو واحد (یوون) پورې مربوط نه دی

بیلګه:

د یوه ټاکلی تولید لپاره دې د لګښت تابع $K(x) = 0,3x + 4$ وي او د خرڅلاو تابع $E(x) = 1,1x$د ګټې په پولیBreak-even-Point کې ټول لګښتونه څومره جګ دي.؟

$$G(x) = E(x) - K(x) = 1,1x - 0,3x - 4 = 0,8x - 4$$

د لږ Break-even-Point :

$$G(x) > 0 \Leftrightarrow 0,8x - 4 > 0 \mid +4 \Leftrightarrow 0,8x > 4 \mid : 0,8 \Leftrightarrow x = 5$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول تولید: $K(5) = 0,3 \cdot 5 + 4 = 1,5 + 4 = 5,5$
د ګټې پوله Break-even-Poin t د 5 ME (د،، سټ واحد یا ډېرۍ یوون ،، لپاره راغلی) شاو خوا کې پرته ده، په دې ځای کې لګښت 5,5 GE (GE پیسو یوون لپاره) دی.

ځوابونه:

تمرین د کړښیز مساواتو III

نتیجې:

لومړی -

$g_1(x) = \frac{1}{2}x + 2;\ g_2(x) = -\frac{1}{2}x + 4 \Rightarrow S(2 \mid 3)$ د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورئ

دویم - $g_1(x) = 2x - 1;\ g_2(x) = -2x + 1 \Rightarrow S\left(\frac{1}{2} \mid 0\right)$

د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورئ

دریم - $g_1(x) = \frac{3}{4}x - 4;\ g_2(x) = -\frac{1}{2}x - 1 \Rightarrow S\left(\frac{12}{5} \mid -\frac{11}{5}\right)$

د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورئ

څلورم - $g_1(x) = -\frac{1}{2}x + 2;\ g_2(x) = \frac{1}{2}x + 3 \Rightarrow S\left(-1 \mid \frac{5}{2}\right)$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګوری

پنځم - $g_1(x)=\frac{2}{3}x+2\,;\,g_2(x)=\frac{1}{2}x+3\Rightarrow S(6\mid 6)$

د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګوری

شپږم - $g_1(x)=\frac{3}{4}x+1;\,g_2(x)=\frac{1}{2}x+2\Rightarrow S(4\mid 4)$

د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګوری

اوم - $g_1(x)=\frac{1}{2}x+\frac{3}{2}\,;P_1(3\mid -2)\Rightarrow g_2(x)=\frac{1}{2}x+2:S(1\mid 2)$

د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګوری

اتم - $g_1(x)=2x-1;P_1(-2\mid 5)\Rightarrow g_2(x)=-\frac{1}{2}x+4:S(2\mid 3)$

د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګوری

نهم - $g_1(x)=-\frac{4}{5}x+3\,;P_1(-4\mid -2)\Rightarrow g_2(x)=\frac{5}{4}x+3:S(0\mid 3)$

د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګوری

لسم - $g_1(x)=2x+3\,;P_1(2\mid -3)\Rightarrow g_2(x)=-\frac{1}{2}x-2:S(-2\mid -1)$

د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفصل حل:

لومړی:

$$g_1(x)=\frac{1}{2}x+2 \qquad g_2(x)=-\frac{1}{2}x+4$$

$$g_1(x)=g_2(x) \Leftrightarrow \frac{1}{2}x+2=-\frac{1}{2}x+4$$

$$\Leftrightarrow x_s=2$$

$$y_s=g_1(x_s)=g_1(2)=\frac{1}{2}\cdot 2+2=3$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{S(2\,|\,3)}}$$



دویم:

$$g_1(x)=2x-1 \qquad g_2(x)=-2x+1$$

$$g_1(x)=g_2(x) \Leftrightarrow 2x-1=-2x+1$$

$$\Leftrightarrow x_s=\frac{1}{2}$$

$$y_s=g_1(x_s)=g_1\left(\frac{1}{2}\right)=2\cdot\frac{1}{2}-1=0$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{S\left(\frac{1}{2}=0{,}5\,|\,0\right)}}$$



دریم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$g_1(x)=\frac{3}{4}x-4 \qquad g_2(x)=-\frac{1}{2}x-1$$

$$g_1(x)=g_2(x)\Leftrightarrow \frac{3}{4}x-4=-\frac{1}{2}x-1$$

$$\Leftrightarrow x_s=\frac{12}{5}$$

$$y_s=g_1(x_s)=g_1\left(\frac{12}{5}\right)=\frac{3}{4}\cdot\frac{12}{5}-4=-\frac{11}{5}$$

$$\Rightarrow S\left(\frac{12}{5}=2,4\,|\,-\frac{11}{5}=-2,2\right)$$



څلورم:

$$g_1(x)=-\frac{1}{2}x+2 \qquad g_2(x)=\frac{1}{2}x+3$$

$$g_1(x)=g_2(x)\Leftrightarrow -\frac{1}{2}x+2=\frac{1}{2}x+3$$

$$\Leftrightarrow x_s=-1$$

$$y_s=g_2(x_s)=g_2(-1)=\frac{1}{2}\cdot(-1)+3=\frac{5}{2}$$

$$\Rightarrow S\left(-1\,|\,\frac{5}{2}=2,5\right)$$



$$g_1(x)=\frac{2}{3}x+2 \qquad g_2(x)=\frac{1}{2}x+3$$

$$g_1(x)=g_2(x)\Leftrightarrow \frac{2}{3}x+2=\frac{1}{2}x+3$$

$$\Leftrightarrow x_s=6$$

$$y_s=g_2(x_s)=g_2(6)=\frac{1}{2}\cdot 6+3=6$$

$$\Rightarrow S(6\,|\,6)$$



پنځم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم:

$$g_1(x)=\frac{3}{4}x+1 \qquad g_2(x)=\frac{1}{2}x+2$$

$$g_1(x)=g_2(x) \Leftrightarrow \frac{3}{4}x+1=\frac{1}{2}x+2$$

$$\Leftrightarrow x_s=4$$

$$y_s=g_2(x_s)=g_2(4)=\frac{1}{2}\cdot 4+2=4$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{S(4\,|\,4)}}$$



اووم:

$$g_1(x)=\frac{1}{2}x+\frac{3}{2} \qquad P_1(3\,|\,-2)$$

$$a_{1g1}=\frac{1}{2} \Rightarrow a_{1g2}=-\frac{1}{a_{1g1}}=-\frac{1}{\frac{1}{2}}=-2$$

$P_1(3\,|\,-2)$ د $g_2(x)=-2x+a_{0g2}$ ر

سره صدق کوي:

$$g_2(3)=-2 \Leftrightarrow -2\cdot 3+a_{0g2}=-2$$

$$\Leftrightarrow a_{0g2}=4$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{g_2(x)=-2x+4}}$$

$$g_1(x)=\frac{1}{2}x+\frac{3}{2} \qquad g_2(x)=-2x+4$$

$$g_1(x)=g_2(x) \Leftrightarrow \frac{1}{2}x+\frac{3}{2}=-2x+4$$

$$\Leftrightarrow x_s=1$$

$$y_s=g_2(x_s)=g_2(1)=-2\cdot 1+4=2$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{S(1\,|\,2)}}$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم:



$g_1(x)=2x-1 \qquad P_1(-2\,|\,5)$

$a_{1g1}=2 \Rightarrow a_{1g2}=-\frac{1}{a_{1g1}}=-\frac{1}{2}=-\frac{1}{2}$

د $P_1(-2\,|\,5)$ $g_2(x)=-\frac{1}{2}x+a_{0g2}$

سره صدق کوي:

$g_2(-2)=5 \Leftrightarrow -\frac{1}{2}\cdot(-2)+a_{0g2}=5$

$\Leftrightarrow a_{0g2}=4$

$\Rightarrow g_2(x)=-\frac{1}{2}x+4$

$g_1(x)=2x-1 \qquad g_2(x)=-\frac{1}{2}x+4$

$g_1(x)=g_2(x) \Leftrightarrow 2x-1=-\frac{1}{2}x+4$

$\Leftrightarrow x_s=2$

$y_s=g_1(x_s)=g_1(2)=2\cdot 2-1=3$

$\Rightarrow S(2\,|\,3)$

نهم:

$g_1(x)=-\frac{4}{5}x+3 \qquad P_1(-4\,|\,-2)$

$a_{1g1}=-\frac{4}{5} \Rightarrow a_{1g2}=-\frac{1}{a_{1g1}}=-\frac{1}{-\frac{4}{5}}=\frac{5}{4}$

د $P_1(-4\,|\,-2)$ $g_2(x)=\frac{5}{4}x+a_{0g2}$ ر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره باور لري:

$$g_2(-4) = -2 \Leftrightarrow \frac{5}{4}\cdot(-4) + a_{0g2} = -2$$

$$\Leftrightarrow a_{0g2} = 3$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{g_2(x) = \frac{5}{4}x + 3}}$$

$$g_1(x) = -\frac{4}{5}x + 3 \qquad g_2(x) = \frac{5}{4}x + 3$$

$$g_1(x) = g_2(x) \Leftrightarrow -\frac{4}{5}x + 3 = \frac{5}{4}x + 3$$

$$\Leftrightarrow x_s = 0$$

$$y_s = g_2(x_s) = g_2(0) = \frac{5}{4}\cdot 0 + 3 = 3$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{S(0\,|\,3)}}$$



لسم:

$$g_1(x) = 2x + 3 \qquad P_1(2\,|\,-3)$$

$$a_{1g1} = 2 \Rightarrow a_{1g2} = -\frac{1}{a_{1g1}} = -\frac{1}{3} = -\frac{1}{2}$$

د $g_2(x) = -\frac{1}{2}x + a_{0g2}$ سره $P_1(2\,|\,-3)$

باور لري:

$$g_2(2) = -3 \Leftrightarrow -\frac{1}{2}\cdot 2 + a_{0g2} = -3$$

$$\Leftrightarrow a_{0g2} = -2$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{g_2(x) = -\frac{1}{2}x - 2}}$$

$$g_2(2) = -3 \Leftrightarrow -\frac{1}{2}\cdot 2 + a_{0g2} = -3$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\Leftrightarrow a_{0g2} = -2$$

$$\Rightarrow g_2(x) = -\frac{1}{2}x - 2$$

$$g_1(x) = 2x + 3 \qquad g_2(x) = -\frac{1}{2}x - 2$$

$$g_1(x) = g_2(x) \Leftrightarrow 2x + 3 = -\frac{1}{2}x - 2$$

$$\Leftrightarrow x_s = -2$$

$$y_s = g_1(x_s) = g_1(-2) = 2\cdot(-2) + 3 = -1$$

$$\Rightarrow S(-2\,|\,-1)$$

پوښتنې:

کربنیزې توابع برخه IV

لومړی – د کربنیزو توابعو تابع ترمونه معلوم کړی، که باور ولرې؛

الف- $f(1) = 7\,;\, f(-1) = 3$ ب - $f(a) = 0\,;\, f(0) = a$ پ - $f(a) = 1;\, f(2a) = -1$

دویم – کربنه وښایی، چې له $P_1\left(\sqrt{k}\,|\,k\right)$ او $P_2(1|\,1)$ تیرېږي، جګوالی $a_1 = \sqrt{k}+1$ لرې او دy محور په $P_y\left(0\,|-\sqrt{k}\right)$ کې غوڅوي.

دریم – وښایی: تکی $P\left(\frac{k}{2}\sqrt{2}\,\middle|\,k\right)$ د $k \in \mathbb{R}$ لپاره په یوه کربنه پوت دی.

د کربنې مساوات وټاکی

څلورم –

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه کرښه چې له P (2,5 | 0) تېریږي د کواوردینات د محورونو سره یو درېګوډی یا مثلث جوړوي. د کوم جګوالي سره دا مثلث برابر پینیز(مساوی الاضلاع) دی؟

پنځم – تابع $f(x) = 3e^{-0,5x} \quad x \in \mathbb{R}$. ورکړ شوی.

د یوه کرښیز تابع h(x) لپاره باور لري:

h(0) = f(0) او h(-2) = f(-2) . h(x) و ټاکی.

شپږم – لاندې څیري د کرښیزو توابعو ګرافونه خوندي لري.

د توابعو ترمونه وټاکی.



اوم – د دواړو کرښو غوڅټکي وټاکی او دا په یوه پروتولاړسیستم کې رسم کړی.

الف - $f(x) = -3x + \frac{5}{4}; \; g(x) = -x - 1$ ب - $f : 2y - x = 3; \; g(x) = -\frac{1}{2}x + 4$

پ - $f(x) = -\frac{2}{3}x - 1; \; g(x) = \frac{1}{6}x - 4$ ت - $f : x = 2; \; g(x) = -\frac{3}{4}x - \frac{3}{2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم – دوه کرښې f(x) او g(x) د x محور په x = 4کې غوڅوي .

ممکنه تابع ترمونه وټاکی.

مفصل ځوبونه

کرښیز مساوات برخه IV

لومړی:

$$f(1)=7 \Rightarrow P_1(1|\,7);\ f(-1)=3 \Rightarrow P_1(-1|\,3)$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_1-x_2}=\frac{3-7}{-1-1}=2 \Rightarrow f(x)=2x+a_0$$

$$P_1(1|\,7):\quad \Rightarrow f(1)=2\cdot 1+a_0=7 \Rightarrow a_0=5 \Rightarrow \underline{\underline{f(x)=2x+5}}$$

الف -

$$f(a)=0 \Rightarrow P_1(a|\,0);\ f(0)=a \Rightarrow P_2(0|\,a) \Rightarrow a_0=a \Rightarrow f(x)=a_1x+a$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{a-0}{0-a}=-1 \Rightarrow \underline{\underline{f(x)=-x+a}}$$

ب -

$$f(a)=1 \Rightarrow P_1(a|\,1);\ f(2a)=-1 \Rightarrow P_1(2a|-1)$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{-1-1}{2a-a}=-\frac{2}{a} \Rightarrow f(x)=-\frac{2}{a}x+a_0$$

$$P_1(a|\,1):\quad f(a)=-\frac{2}{a}\cdot a+a_0=1 \Rightarrow a_0=3 \Rightarrow \underline{\underline{f(x)=-\frac{2}{a}x+3;\ a\neq 0}}$$

پ -

دویم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$a_1 = \sqrt{k}+1$ und $P_y\left(0\,|\,-\sqrt{k}\right) \Rightarrow a_0 = -\sqrt{k}$ غواړو و بنایو $P_1\left(\sqrt{k}\,|\,k\right); P_2(1|1)$

$$a_1 = \frac{y_2-y_1}{x_2-x_1} = \frac{1-k}{1-\sqrt{k}} = \frac{(1-k)\left(1+\sqrt{k}\right)}{\left(1-\sqrt{k}\right)\left(1+\sqrt{k}\right)} = \frac{(1-k)\left(1+\sqrt{k}\right)}{(1-k)} = 1+\sqrt{k} = \underline{\underline{\sqrt{k}+1}}$$

$$\Rightarrow f(x) = \left(\sqrt{k}+1\right)x + a_0$$

$$P_2(1|1): \quad f(1) = \left(\sqrt{k}+1\right)\cdot 1 + a_0 = 1 \Rightarrow \underline{\underline{a_0 = -\sqrt{k}}} \Rightarrow \underline{\underline{f(x) = \left(\sqrt{k}+1\right)x - \sqrt{k}}}$$

$$f(0) = \left(\sqrt{k}+1\right)\cdot 0 - \sqrt{k} = -\sqrt{k} \Rightarrow P_y\left(0\,|\,-\sqrt{k}\right)$$

دریم:

$$P\left(\frac{k}{2}\sqrt{2}\,|\,k\right) \Rightarrow P_1\left(\frac{k_1}{2}\sqrt{2}\,|\,k_1\right) \Rightarrow P_2\left(\frac{k_2}{2}\sqrt{2}\,|\,k_2\right) \Rightarrow P_3\left(\frac{k_3}{2}\sqrt{2}\,|\,k_3\right)$$

$$a_1 = \frac{y_2-y_1}{x_2-x_1} = \frac{k_2-k_1}{\frac{k_2}{2}\sqrt{2}-\frac{k_1}{2}\sqrt{2}} = \frac{(t_2-t_1)}{\frac{1}{2}\sqrt{2}\,(k_2-k_1)}$$

$$= \frac{1}{\frac{1}{2}\sqrt{2}} = \frac{2}{\sqrt{2}} = \frac{2\cdot\sqrt{2}}{\sqrt{2}\cdot\sqrt{2}} = \frac{2\sqrt{2}}{2} = \sqrt{2}$$

$$\Rightarrow f(x) = \sqrt{2}x + a_0$$

$$P_1\left(\frac{k_1}{2}\sqrt{2}\,|\,k_1\right): \quad f\left(\frac{k_1}{2}\sqrt{2}\right) = \sqrt{2}\left(\frac{k_1}{2}\sqrt{2}\right) + a_0 = k_1$$

$$\Rightarrow \sqrt{2}\left(\frac{k_1}{2}\sqrt{2}\right) + a_0 = k_1 \Leftrightarrow \sqrt{2}\cdot\sqrt{2}\cdot\frac{k_1}{2} + a_0 = k_1 \Leftrightarrow k_1 + a_0 = k_1 \Rightarrow a_0 = 0$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{f(x) = \sqrt{2}x}}$$

$$P_3\left(\frac{k_3}{2}\sqrt{2}\,|\,k_3\right): \quad f\left(\frac{k_3}{2}\sqrt{2}\right) = \sqrt{2}\left(\frac{k_3}{2}\sqrt{2}\right) = k_3$$

څلورم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د g(x) جګوالی

$$a_{1g} = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{0-(-2,5)}{2,5-0} = 1$$

د h(x) جګوالی

$$a_{1h} = \frac{y_3 - y_2}{x_3 - x_2} = \frac{2,5-0}{0-2,5} = -1$$

درګودې(مثلث) د $a1=\pm 1$ لپاره برابر پښيز (برابرضلعيز) دی



پنځم:

لاندې المانې په پښتو: يادونه يا پام:

$$f(x) = 3e^{-0,5x}$$

$$h(0) = f(0) = 3e^0 = 3 \cdot 1 = 3 \Rightarrow P_1(0 \mid 3) \Rightarrow a_0 = 3 \qquad \text{Bemerkung: } e^0 = 1$$

$$h(-2) = f(-2) = 3e^{-0,5\cdot(-2)} = 3e^1 = 3e \Rightarrow P_2(-2 \mid 3e)$$

$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{3e-3}{-2-0} = \frac{3e-3}{-2} = -\frac{3}{2}(e-1) \Rightarrow \underline{\underline{h(x) = -\frac{3}{2}(e-1)x + 3}}$$

شپږم:

الف-

$$\underline{\underline{h(x) = -\frac{1}{4}x - 2}} \qquad \underline{\underline{f(x) = \frac{2}{3}x + 2}}$$

سيده لوستل کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

$g(x)=\frac{5}{2}x+a_0$ د $P(4|1)$: سره:

$$g(4)=\frac{5}{2}\cdot 4+a_0=1\Rightarrow a_0=-9\Rightarrow \underline{\underline{g(x)=\frac{5}{2}x-9}}$$

ب – د g(x) لپاره ترم له ګراف $g(x)=\frac{1}{4}x-2$ څخه لوستل کیدی شي .

له $f(x)$ څخه پیژنو ! $P_1(2|5)$ او $P_2(3|g(3))$

$$g(3)=\frac{1}{4}\cdot 3-2=-\frac{5}{4}\Rightarrow P_2\left(3|-\frac{5}{4}\right)$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{-\frac{5}{4}-5}{3-2}=\frac{-\frac{5}{4}-\frac{20}{4}}{1}=-\frac{25}{4}\Rightarrow f(x)=-\frac{25}{4}x+a_0$$

$$P_1(2|5):\quad f(2)=-\frac{25}{4}\cdot 2+a_0=5\Rightarrow a_0=\frac{35}{2}\Rightarrow \underline{\underline{f(x)=-\frac{25}{4}x+\frac{35}{2}}}$$

اوم: الف-



$$f(x)=-3x+\frac{5}{4};\ g(x)=-x-1$$

$$f(x_s)=g(x_s)$$

$$\Rightarrow -3x_s+\frac{5}{4}=-x_s-1\Leftrightarrow x_s=\frac{9}{8}$$

$$y_s=g(x_s)=g\left(\frac{9}{8}\right)=-\frac{9}{8}-1=-\frac{17}{8}$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{S\left(\frac{9}{8}|-\frac{17}{8}\right)}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب –

$$f: 2y - x = 3 \Rightarrow f(x) = \frac{1}{2}x + \frac{3}{2}$$

$$f(x_s) = g(x_s)$$

$$\frac{1}{2}x_s + \frac{3}{2} = -\frac{1}{2}x_s + 4$$

$$\Rightarrow x_s = \frac{5}{2}$$

$$y_s = f(x_s) = f\left(\frac{5}{2}\right) = \frac{11}{4}$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{S\left(\frac{5}{2} \mid \frac{11}{4}\right)}}$$



پ –

$$f(x_s) = g(x_s)$$

$$\Rightarrow -\frac{2}{3}x_s - 1 = \frac{1}{6}x_s - 4 \Rightarrow x_s = \frac{18}{5}$$

$$y_s = g(x_s) = g\left(\frac{18}{5}\right) = -\frac{17}{5}$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{S\left(\frac{18}{5} \mid -\frac{17}{5}\right)}}$$



ت –

$$x = 2 \Rightarrow x_s = 2$$

$$y_s = g(x_s) = g(2) = -\frac{3}{4} \cdot 2 - \frac{3}{2} = -3$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{S(2 \mid -3)}}$$



اتم – کربنه چې له صفرتکي تیریږي:

$$f(x) = a_1 x \quad a_1 \in \mathbb{R}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سره راکښل شوي $x = 4 \Rightarrow f^{*}(x) = a_1(x-4) \quad a_1 \in \mathbb{R}$

بېلګه:

$$a_1 = 1 \Rightarrow f(x) = x - 4$$
$$a_1 = 2 \Rightarrow g(x) = 2(x-4) = 2x - 8$$

پوښتنې

کرښيزې توابع برخه V

لومړی –

و ازمایی چې ایا کرښې g, h, i د یوه ټکي څخه تېریږي.

الف - $g(x) = x + 1 \quad ; \quad h: 2y + x + 4 = 0 \quad ; \quad i: 3y - 5x = 7$

ب - $g(x) = \frac{1}{6}x + \frac{3}{2} \quad ; \quad h(x) = -\frac{2}{3}x + 2 \quad ; \quad i: 2x - y = 3$

دویم – د دوه کرښیزو توابعو f(x) او .g(x) ارزښت جدول ورکړړ شوی دی.
د دواړو توابعو ګراف چېرته قطع کوي؟

د د کوم x ارزښت لپاره صدق کوي f(x) < g(x) ؟

x	0	1	2	3
f(x)	0	1,5	3	4,5
g(x)	−1	1	3	5

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم –

د دواړو توابعو غوښتکی وښایی او په کواوردینات سیستم کې یې ګراف انځور کړی.

$$f(x) = 0,04x + 20 \quad ; \quad g(x) = 0,15x + 15$$

څلورم –

د څلورو ګرافونو سره شکل په پام کې ونیسی.



الف- ټول توابع مساوات وټاکی.

ب- د f(x) او g(x) غوښتکي وشمیری ، همداسي د h(x) او i(x) .

پ- دوه کربنې د کښلی شکل دباندې غوڅوي. د قطع کېدو ټکي پیداکړی

ت- د څلورو نه جوړه موازي کربنو

زیات له زیاته څومره غوښتکي لري؟

پنځم – دوه یو په بل نیغې ولاړې کربنې یو بل په (1- | 2-)Sکې غوڅوي .

ممکنه کربنې مساوات ورکړی.

شپږم – کربنه h په کربنه g نیغه ولاړه ده. د h جګوالی وټاکی.

الف – $a_{1g} = -0,5e$ ب - $a_{1g} = 2e^{-2}$ پ - $a_{1g} = \frac{1}{2}\sqrt{3}$

اوم –

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه مجله، چې د اخستلو 2,20 € قیمت لري.، 120 000 جلده (پوښنه) چاپیږي د بازار کشف دفتر په مرستع دوی کره کوي، چې د0,20 € نرخ کمیدو په اساس مجله په5000 پوښنه زیاته خرڅیدی شي، د 0,20 €په ترخ جګوالي د 5000مجلو خرڅلاو یې کمیږي.

الف – د140 000 مجلو د چاپ قیمت وښایئ

د y دانو په چاپ ځومره د پوښ قیمت ورکوي.

ب – کوم د خرڅلاو ګڼون یا تعداد د چاپ خونې انتظار کېدی شي، که د مجلې قیمت په 1,50 € ټیټ کړي؟

مفصل حلونه یا ځوابونه

کرښیز مساوات برخه V

لومړی:

الف-

$$g(x)=x+1;\ h:2y+x+4=0\Rightarrow h(x)=-\frac{1}{2}x-2;\ i:3y-5x=7\Rightarrow i(x)=\frac{5}{3}x+\frac{7}{3}$$

$$g(x_s)=h(x_2)\Leftrightarrow x_s+1=-\frac{1}{2}x_s-2\Rightarrow x_s=-2$$

$$y_s=g(x_s)=g(-2)=-1$$

د $i(x_s)$ لپاره ازنابښت: $i(-2)=-1\Rightarrow S(-2|-1)$

ټولې دري کرښې له ټکي S(-2;-1) تیریږي.

ب –

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$g(x)=\frac{1}{6}x+\frac{3}{2}\quad ;\quad h(x)=-\frac{2}{3}x+2\quad ;\quad i:2x-y=3\Rightarrow i(x)=i(x)=2x-3$$

$$g(x_s)=h(x_s)\Leftrightarrow \frac{1}{6}x_s+\frac{3}{2}=-\frac{2}{3}x_s+2\Rightarrow x_s=\frac{3}{5}$$

$$y_s=g(x_s)=g\left(\frac{3}{5}\right)=\frac{8}{5}\Rightarrow$$

د g(x) او h(x) لپاره باور لري $S\left(\frac{3}{5}\,\middle|\,\frac{8}{5}\right)$.

د i(x) لپاره ازمایښت: $i(x_s)=i\left(\frac{3}{5}\right)=-\frac{9}{5}\Rightarrow i(x)$:

له دې لاس ته راځي، چې i(x) له ټکي $S\left(\frac{3}{5}\,\middle|\,\frac{8}{5}\right)$ څخه نه تیریږي.

دا درې کربنې ګډ ټکي نه لري.

دویم -

$$f(x):\quad P_1(0\,|\,0)\Rightarrow a_{0f}=0\quad P_2(2\,|\,3)$$

$$\Rightarrow a_{1f}=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{3-0}{2-0}=\frac{3}{2}\Rightarrow \underline{\underline{f(x)=\frac{3}{2}x}}$$

$$g(x):\quad P_3(1\,|\,1)\quad P_4(2\,|\,3)$$

$$\Rightarrow a_{1g}=\frac{y_4-y_3}{x_4-x_3}=\frac{3-1}{2-1}=2\Rightarrow g(x)=2x+a_{0g}$$

$$P_3(1\,|\,1):\quad g(1)=2\cdot 1+a_{0g}=1\Rightarrow a_{0g}=-1\Rightarrow \underline{\underline{g(x)=2x-1}}$$

دا چې $P_2(2\,|\,3)$ په f او $P_4(2\,|\,3)$ په g پرته ده او کواوردیناتونه برابر دي، دا S(2;3) د دواړو کربنو غوټکی هم دی، دا په لومړۍ څلورمه کې پروتدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$f(x) < g(x) \Leftrightarrow \frac{3}{2}x < |2x-1| - 2x \Leftrightarrow -\frac{1}{2}x < -1 \;|:\left(-\frac{1}{2}\right) \Leftrightarrow x > 2$$

د $x > 2$ لپاره $f(x) < g(x)$ باور لري، $f(x)$ د $g(x)$ لاندې یا کښته خواته ځغلي.

دریم:

$$f(x) = 0,04x + 20$$
$$g(x) = 0,15x + 15$$
$$g(x_s) = f(x_s)$$
$$\Leftrightarrow 0,15x + 15 = 0,04x + 20$$
$$\Rightarrow x_s = \frac{500}{11}$$
$$y_s = f(x_s) = f\left(\frac{500}{11}\right) = \frac{240}{11}$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{S\left(\frac{500}{11} \mid \frac{240}{11}\right)}}$$
$$\approx S(45,45 \mid 21,82)$$



$$f(x) = -\frac{1}{4}x + 3\,;\; g(x) = \frac{1}{4}x + 1\,;\; h(x) = 4x + 4\,;\; i(x) = \frac{1}{2}x - 3$$

څلورم: الف-

ب -

$$g(x_s) = f(x_s) \Leftrightarrow \frac{1}{4}x_s + 1 = -\frac{1}{4}x_s + 3 \Leftrightarrow x_s = 4$$
$$y_s = g(x_s) = g(4) = 2 \Rightarrow \underline{\underline{S_{f,g}(4 \mid 2)}}$$
$$h(x_s) = i(x_s) \Leftrightarrow 4x_s + 4 = \frac{1}{2}x_s - 3 \Leftrightarrow x_s = -2$$
$$y_s = h(x_s) = h(-2) = -4 \Rightarrow \underline{\underline{S_{h,i}(-2 \mid -4)}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

پ –

$$i(x_s) = f(x_s)$$
$$\frac{1}{2}x_s - 3 = -\frac{1}{4}x_s + 3 \Leftrightarrow x_s = 8$$
$$y_s = i(x_s) = i(8) = 1$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{S_{f,i}(8|1)}}$$

$$i(x_s) = g(x_s)$$
$$\frac{1}{2}x_s - 3 = \frac{1}{4}x_s + 1 \Leftrightarrow x_s = 16$$
$$y_s = g(x_s) = g(16) = 5$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{S_{g,i}(16|5)}}$$

ت –

د څلور کربنو چې جوړه غبرګې نه وي، زیات له زیات شپږ ګډ غوټتکي لري.

دلیل:

کربنه ۱ کړی شي له ۲،۳او څلور سره غوڅه کړي(درې شونوالی یا شوونتوب).

کربنه ۲ کړی شي له کربنې ۳ او ۴ سره غوڅه کړي، کربنه ۲ له ۱ سره په پام کې نیول شوې وه.(۲ شوونتوب).

کربنه ۳ کیدی شي له کربنې ۴ سره غوڅه کړي. نو د غوټي شووتوب د مخه په پام کې نیول شوی دی. (۱ شوونتوب)

پنځم –

پیل کربنه : g(x) = a1x دې ته عمود یا ولاړه سرچینه ییزه کربنه: $h(x) = -\frac{1}{a_1}x$:

دواړه کربنې په ټکي S(-2;-1)کې راکښل شوې دي.

له دې لاس ته راځي $\Rightarrow g^*(x) = a_1(x+2) - 1$ او $h^*(x) = -\frac{1}{a_1}(x+2) - 1$

د a1=4 لپاره ښایګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$g^*(x) = 4(x+2) - 1 = \underline{\underline{4x+7}} \qquad h^*(x) = -\frac{1}{4}(x+2) - 1 = \underline{\underline{-\frac{1}{4}x - \frac{3}{2}}}$$

شپږم:

الف -
$$a_{1g} = -\frac{1}{2}e \Rightarrow a_{1h} = -\frac{1}{a_{1g}} = -\frac{1}{-\frac{1}{2}e} = \frac{2}{e} = \underline{\underline{2e^{-1}}}$$

ب -
$$a_{1g} = 2e^{-2} \Rightarrow a_{1h} = -\frac{1}{a_{1g}} = -\frac{1}{2e^{-2}} = \underline{\underline{-\frac{1}{2}e^2}}$$

پ -
$$a_{1g} = \frac{1}{2}\sqrt{3} \Rightarrow a_{1h} = -\frac{1}{a_{1g}} = -\frac{1}{\frac{1}{2}\sqrt{3}} = \underline{\underline{-\frac{2}{3}\sqrt{3}}}$$

اوم -

الف -

چاپ ګنه یا – تعداد د قیوت په واک کې دی.

له دې لاس ته راځي، چې قیمت خپلواکه اووښتونې یا متحولهx ده ، چاپ ګنه بلواک-یا تابع اووښتونېy ده.

قیمت 2,20€چاپ ګنون 120 000لاس ته راځي P1(2,2 ; 120000)

قیمت 2,00€چاپ ګنون 125 000لاس ته راځي P2(2 ; 125000)

قیمت 2,40€چاپ ګنون 115 000لاس ته راځي(P3(2,4 ; 115000

که ټو ل دري ټکي په یوه کربنه پراته وي، نو د قیمت ا و چاپګنې یا تعدا ترمنځ اړیکي کربنیزې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{125000 - 120000}{2 - 2,2} = \frac{5000}{-0,2} = -25000 \Rightarrow f(x) = -25000x + a_0$$
$$P_2(2 \mid 125000): \quad f(2) = -25000 \cdot 2 + a_0 = 125000 \Rightarrow a_0 = 175000$$
$$\Rightarrow f(x) = -25000x + 175000$$

د P3(2,4 ; 115000) لپاره ازمایښت:

$$f(2,4) = -25000 \cdot 2,4 + 175000 = 115000$$

له دې سره قیمت او چاپګنون یا تعداد ترمنځ اړیکې کربنیزه دي.

قیمت د چاپ ګڼې y=140000 سره . => P(x;140000)

$$\Rightarrow f(x) = -25000x + 175000 = 140000 \Leftrightarrow x = 1,4 \Rightarrow \underline{\text{Preis } 1,40 €}$$

قیمت دy چاپګڼ یا - تعداد سره : => P(x;y)

$$\Rightarrow f(x) = -25000x + 175000 = y \Leftrightarrow x = -\frac{y - 175000}{25000} = \underline{\underline{-\frac{y}{25000} + 7}}$$

ب - د1,50E قیمت لاس ته راځي:P(1,5;y)

$$y = f(1,5) = -25000 \cdot 1,5 + 175000 = \underline{\underline{137500}}$$

د1,50 € قیمت سره دې د 137500 zu چاپګنون سره و شمیرل یا وګڼل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2.4-د کربنیزو توابعو په مرسته د پرابلمونو حل(ستونځوبی)

2.4.1د ورځنی ستونځوبي یا د پرابلمونو حل:

بېلګه ۱:

ملک او سپین دواړه په روغتون کې د ناروغچوپړ په توګه په یوه بیارغونې روغتون کې کار کوي او دواړه همغه بنسټ معاش اخلي. په دې وخت کې باید دواړه زیات کار وکړي. د میاشتې په اخر کې دوی معاشونه سره پرتله کوي. د ملک نغد معاش€ 3559 دی، د سپین .€ 3223 . ملک په روانه میاشت کې ۴۳ ساعته زیات کار کړی او سپین فقط ۲۷ ساعته زیات کار کړی. بنسټ معاش او د زیات کار پیسې وښایی.

د زیات کار وخت: x اخستل شوی ټول معاش: f(x)

دوه معاش حسابونه ورکړ شوي دي.

$P_1(43 \mid 3559)$ او $P_2(27 \mid 3223)$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{3223 - 3559}{27 - 43} = \frac{-336}{-16} = 21 \Rightarrow f(x) = 21x + a_0$$

(a1=زیات کار پیسې a0= بنسټ معاش)

$$P_1(43 \mid 3559) \Rightarrow f(43) = 3559 \Leftrightarrow 21 \cdot 43 + a_0 = 3559$$
$$\Leftrightarrow 903 + a_0 = 3559 \mid -903$$
$$\Leftrightarrow a_0 = 2656$$
$$\Rightarrow f(x) = 21x + 2656$$

بنسټ معاش € 2656 دی او د زیاتکار € 21 .

بیلګهII

یو انرژی پلورونکی خپلو مشتریانو ته برېښنا په لاندې شرایطو وړاندې کوي:

یوkWh کیلو واټ په ساعت د€ 0,14 په ترخ د میاشتې په € 7,50 بنسټ پیسو .

الف – یو تابع ترم ولیکی.

په یوه مناسب کواوردینات سیسم کې د200 kWh پورې د برق مصرف ګراف وکاږی.

ب - د برېښنا د څلورو میاشتو لګښت € 150,40 دی. څومره برېښنا لګول شوې؟

پ – یو دویم پلورونکی برېښنا په.€ 0,10 وړاندې کوي د میاشتې په€ 10 بنسټ پیسو.

د برېښنا پلورونکي بدلول د کوم لګښت څخه ګټور تمامیږي؟

حل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف-

	اینبوونه: 1 kWh: $0,14 \cdot 1 + 7,50$ 2 kWh: $0,14 \cdot 2 + 7,50$ ..... x kWh: $0,14 \cdot x + 7,50$ د تابع ترم: $f(x) = 0,14 \cdot x + 7,50$ $x \triangleq$ kWh ; $f(x) \triangleq$ €

یادونه: حساب بې له یوونونو صورت نیسي، دا د هرې نتیجې سره ورزیاتیږي.

ب-اینبوونه: $f(x) = 0,14x+7,50$ د میاشتنۍ شمیرنې لپاره باور لري.

د څلورو میاشتو لپاره بنسټ پیسې 30€ دي

$$\Rightarrow f_4(x) = 0,14x + 30 \quad P(x \mid 150,4)$$
$$\Rightarrow f_4(x) = 0,14x + 30 = 150,4$$
$$\Leftrightarrow 0,14x + 30 = 150,4 \mid -30$$
$$\Leftrightarrow 0,14x = 120,4 \mid : 0,14$$
$$\Leftrightarrow x = 860$$

د برېښنا لګښت په څلورو میاشتو کې860kWh وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پ-



پ-لومړی پلورونکی: f(x) = 0,14x+7,50

دویم پلورونکی:g(x) = 0,1x+10

په غوټکي Sکې نرخبرابر دي.

$$
\begin{aligned}
&f(x) = g(x)\\
&\Leftrightarrow 0,14x + 7,50 = 0,1x + 10 \mid -0,1x\\
&\Leftrightarrow 0,04x + 7,50 = 10 \mid -7,5\\
&\Leftrightarrow 0,04x = 2,5 \mid : 0,04\\
&\Leftrightarrow x = 62,5
\end{aligned}
$$

د 62,5kWh سره لګښت پرتله کونه.

د میاشتي د برېښنا لګښت سره دویم پلورونکی ارزان دی نسبت لومړي ته.

بیلګه III

د وښو(د حیواناتو د خوراک څه) چمتووالي اوتومات ،، کولابیر،، شپون د ورځي 7,5 kg خوراکي موادو ته اړتیا لري. دولس ورځي د مخه چې دا د خوراک موادو ذخیره ډکه شوي وه، هلته نور هم 250 kg.خوراکي مواد شتون لري.

الف ــ

یو د تابع مساوات ولیکی، چې دا حالت تشریح کوي.

ب - دولس ورځي پخوا په څومره خوراکي موادو دا ذخیره ډکه شوي وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پ – د50 kg څخه وروسته دا ذخیره بیرته د ب - په اندازه ډکیږي . دا کله اړین کیږي.

حل –

الف - x محور : وخت په ورځو y محور : د وښو یا خوراکي مواد پهkg .

$$f(x) = -7,5x + a_0$$
$$P(12 \mid 250) \Rightarrow f(12) = 250 \Leftrightarrow -7,5 \cdot 12 + a_0 = 250$$
$$\Leftrightarrow -90 + a_0 = 250 \mid +90$$
$$\Leftrightarrow a_0 = 340 \Rightarrow \underline{\underline{f(x) = -7,5x + 340}}$$

ب – د ډکولو وخت دی.

د ډکوني وخت x = 0 دی.

$$\Rightarrow f(0) = -7,5 \cdot 0 + 340 = 340$$

د خوراکي موادو شتون 12 ورځ د مخه 340 kg وو.

پ –

$$f(x) = 50 \Leftrightarrow -7,5x + 340 = 50 \mid -340$$
$$\Leftrightarrow -7,5x = -290 \mid :(-7,5)$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{580}{15} = \frac{116}{3} \approx 38,7$$

نږدې له 38,7 ورځو د مخه ذخیره بیرته ډکه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګه IV

د تلفون شرکت ،، ملفون ارزان،،(HB) وړاندې کوي:

هره د خبرو دقیقه € 0,06 قیمت لري، د میاشتې بنسټیز قیمت € 8,50 سره.

د ،،ملفون ارزاني،، (HP) شرایط دي : هر د خبرو دقیقه € 0,08 قیمت لري، د میاشتې بنسټ قیمت .€ 5 سره. (یوه سکیځ ترتیب کړی)

الف – په څومره دقیقو کې دواړه قیمتونه برابردي؟

ب – ته د میاشت د تلفون لپاره لري(پیسې نیا ورکوي) ته کوم شرکت ټاکې او د ټاکلي شکت سره به څرمره خبرې وکړې؟

پ – د الف او ب- نتیجې په یوه پروت ولاړ – یا کواوردینات سیستم کې انځور کړی.

حل :

الف- $HB: K_1(x) = 0,06x + 8,5 \qquad HP: K_2(x) = 0,08x + 5$

د لګښت برابروالی د دواړو کربنو په غوڅې کې شتون لري.

$$K_2(x) = K_1(x) \Leftrightarrow 0,08x + 5 = 0,06x + 8,5 \mid -0,06x$$
$$\Leftrightarrow 0,02x + 5 = 8,5 \mid -5$$
$$\Leftrightarrow 0,02x = 3,5 \mid :0,02$$
$$\Leftrightarrow x = 175$$
$$K_1(175) = 0,06 \cdot 175 + 8,5 = 19$$
$$K_2(175) = 0,08 \cdot 175 + 5 = 19$$

له 175 دقیقو وروسته لګښت برابر دی..(€ 19) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

HB:

$$K_1(x) = 25 \Leftrightarrow 0,06x + 8,5 = 25 \mid -8,5$$
$$\Leftrightarrow 0,06x = 16,5 \mid :0,06$$
$$\Leftrightarrow x = 275$$

ب –

HP:

$$K_2(x) = 25 \Leftrightarrow 0,08x + 5 = 25 \mid -5$$
$$\Leftrightarrow 0,08x = 20 \mid :0,08$$
$$\Leftrightarrow x = 250$$

د HB خدمتونه ارزان دي، ځکه چې د 25 € لپاره کېدی شي 275 دقیقې تلفون وشي. برعکس یا په څټ د HP 25 € فقط د250قیقو لپاره بسیا کوي.



پ –

پروت: وخت په دقیقه، ولاړ لګښت په یورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګه V

یو ه فابریکه کړی شي خورا زیات یخووني جوړ کړي(د کاپا ځیتي پوله).

متحوله د دانې لګښت ثابت دی او .k_v = 300 € دی.

یخووني هر یو د€ 375 قیمت باندې پلورل کیږي.

الف – قیمت تابع(K(x پیدا کړئ، چې د خرڅلاو تابع یې E(x)ده او د ګټې تابع یې د فابریکې لپاره G(x) ده.

ب – د کوم تولیدډېرئ سره به د ګټې پولې یا ورشو breakeven point یا Gewinnschwelle ته ورسیږو؟

په دې ځای کې ټول مصارف ځومره دي همداسې لاس ته راوړنه؟

پ – د توانپولې پورې ګټه ځورمه لویه ده؟

حل-

الف- ځاې په ځای لګښت:	$K_f = 90\,000$ €
متحول د دانې لګښت:	$k_v = 300$ €
د خرڅلو قیمت:	$p = 375$ €
دلګښت تابع:	$K(x) = k_v \cdot x + K_f = 300x + 90\,000$
د خرڅلاو ابع:	$E(x) = p \cdot x = 375 \cdot x$
د ګټې تابع:	$G(x) = E(x) - K(x) = 75x - 90\,000$

ب – د ګټې پوله هغه ځای دی، چې هلته ګټه نهکیږي.

$$G(x) = 0 \Leftrightarrow 75x - 90\,000 = 0 \mid +90\,000 \Leftrightarrow 75x = 90\,000 \mid 75 \Leftrightarrow x = x_s = 1\,200$$
$$E(x_s) = E(1\,200) = 375 \cdot 1\,200 = 450\,000 = K(x_s)$$

د ورځنې د 1200 تولیدډېرئ سره فابریکهګټه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګټې پولې کې لګښت همدومره لوې دی لکه خرڅلاو. ((€ 000 450))

پ – د توانپولې ګټه: $G(1500) = 75 \cdot 1500 = 22\,500$:

په توان پولې ګټه .€ 500 22 ده.

بیلګه VI .

سپین د تلفون شرکت ،، ارزانه سرو یا –تلفون،، نرخ ګوري

نرخ A : بنسټ نرخ € 5 د میاشتې لومړي لس ساعته مفت، پسې 0,5 Ct. / min .

نرخ B : بنسټ نرخ / € 10 د میاشتې لومړي ۲۰ ساعته مفت، پسې 0,4 Ct. / min .

نرخ : د میاشتې ټولې پیسې یاFlatrate د میاشتې Flatrate 25 € / Monat.

د ورځې په منځنۍ توګه سپین دوه نیم ساعته سرف کوي.

الف – د هر نرخ لپاره د تابع مساوات ولیکئ.

ب – په یوه مناسب پروت ولاړ سیستم یا کواوردینات سیستم کې د تابع ګراف سم کړئ.

پ – روښانه کړئ، }ې له ګراف څخه ټول څه لوستل کیږي(انترپریټیشن یا تشریح)

ت – د سپین لپاره مساعد نرخ وشمېرئ.

ټ – د نرخ A اوB لپاره په کوم ټکې کې ارزښت برابر دی؟

ث- د کوم سرف وخت وروسته دې سپین فلېټ رېټ وټاکي؟

حل –

(c) ketabton.com: The Digital Library



محورx : وخت په ساعت محورy : لګښت په یورو

نرخ A :

$\cdot 0,5\ Ct/min = 30\ Ct/h = 0,3\ €/h$ (Steigung 0,5Ct/min دلته ۶۰ دقیقی دي.

(جګوالی)

$$\Rightarrow K_A(x) = 0,3x + a_0$$

۱۰ مفت ساعته په دې معنا دي، چې په لومړیو لس ساعتونو کې یواځې 5€د بنسټلګښت راځي.

له دې لاس ته راځي P(10;5)

په دې ټکي کې د KA(x) ګراف ځغلي

$$P(10\,|\,5) \Rightarrow K_A(10) = 5 \Leftrightarrow 0,3 \cdot 10 + a_0 = 5\,|\,-3$$
$$\Leftrightarrow a_n = 2$$

د نرخ A لپاره تابع مساوات : $K_A(x) = 0,3x + 2$

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرخ B :

$0,4\ Ct/min = 24\ Ct/h = 0,24\ €/h$ دلته 0,4 Ct/min 60 ساعته دي (جګوالی)

$$\Rightarrow K_B(x) = 0,24x + a_0$$

۲۰مفت ساعتونه په دې معنا دي، چې په لومړیو ۲۰ ساعتونو کې فقط د ۱۰ یورو بنسټپیسې راځي،

=> P(20;10)

په دې ټکي کې د $K_B(x)$ ګراف ځغلي

$$P(20|10) \Rightarrow K_B(20) = 10 \Leftrightarrow 0,24 \cdot 20 + a_0 = 10$$
$$\Leftrightarrow 4,8 + a_0 = 10 \mid -4,8$$
$$\Leftrightarrow a_0 = 5,2$$

د نرخ B د تابع مساوات: $K_B(x) = 0,24x + 5,2$

نرخC : فلیټ ربړ له ساعتونو خپلواک دی.

دC نرخ لپاره لپاره د تابع مساوات $F(x) = 25$ (د محور ته غبرګ)

ب - ځیره د پ کښته لور ته

پ – په نږدې 53 ساعتونو کې دواړه کربنې سره غوڅوي، په دې ټکي کې لګښت برابر دی.
تر 53 پور د A نرخ مساعد دی. د 53 او82 ترمنځ د B نرخ مساعد دی. له82 وروسته فلیټ ربړ ګټور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې څیره ب ته



ت - سپین د میاشتي 75 ساعته سرف کوي. په دې سرف نرخ کې د ده لپاره B مساعد دی:

د میاشتي د سرف دوام .2,5h.30 = 75St ساعته:

دA نرخ لګښت:	$K_A(75) = 0,3 \cdot 75 + 2 = 24,50$
دB نرخ لګښت:	$K_B(75) = 0,24 \cdot 75 + 5,2 = 23,20$
دC نرخ لګښت:	$F(75) = 25$

ټ - په دواړو کربنو کې دي دA او B نرخ برابروالی پیدا شي.

$$K_A(x) = K_B(x) \Leftrightarrow 0,3x + 2 = 0,24x + 5,2 \mid -0,24x$$
$$\Leftrightarrow 0,06x + 2 = 5,2 \mid -2$$
$$\Leftrightarrow 0,06x = 3,2 \mid : 0,06$$
$$\Leftrightarrow x = x_s = \frac{320}{100} : \frac{6}{100} = \frac{320 \cdot 100}{100 \cdot 6} = \frac{320}{6} = \frac{160}{3}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$= 53\frac{1}{3}$$

(۵۳ ساعته او ۲۰ دقیقې)

$$K_A\left(\frac{160}{3}\right) = \frac{3}{10}\cdot\frac{160}{3} + 2 = 16 + 2 = 18$$

د 53 h ساعتونو او 20 min دقیقو سرف وخت کې د نرخ برابروالی حاکم دی. په دې وخت کې لګښت د دواړو لپاره € 18 دی.

ث – د ګراف څخه لوستل کیږي، چې د $K_B(x)$ غوښتکی د $F(x)$ سره هغه ټکی په نښه کوي، چې له هغه څخه د سرف وخت مساعد دی نسبت و نرخ B ته.

$$K_B(x) = F(x) \Leftrightarrow 0,24x + 5,2 = 25 \mid -5,2$$
$$\Leftrightarrow 0,24x = 19,8 \mid : 0,24$$
$$\Leftrightarrow x = x_2 = 82,5$$

د میاشتې د 82,5 سرف دوام وروسته باید په فلیټ ټټ واړول شي.

پوښتنې

کربنیز توابع VII

لومړی – د لاندې کربنیزو توابعو ګرافونه رسم کړئ:

الف- $f(x) = -2x + 2$ ب- $f(x) = \frac{1}{2}x - \frac{3}{4}$ پ- $f(x) = \frac{3}{4}x - 3$ ت- $f(x) = 3x - 6$

د ویم –

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې کربنې جګوالی a1 معلوم دی. پرته له دې یو ټکی P ورکړ شوی دی، چې په کربنه پروت دی. د تابع مساوات وټاکئ او په یوه مناسب پروتولاړ سیستم کې یې ګراف وکاږئ.

الف ـ $P(3|4)$ $a_1 = 1$ ب ـ $P(-8|1)$ $a_1 = -1$

پ ـ $P(4|3)$ $a_1 = \frac{1}{2}$ ت ـ $P(-4|3)$ $a_1 = -\frac{1}{2}$

دریم –

په یوه کربنه ټکي P_1 او P_2 ورکړ شوي دي. چې په کربنه پراته دي. د تابع مساوات وټاکئ او په یوه مناسب پروتولاړ سیستم کې یې ګراف وکاږئ

الف ـ $P_1(3|4)$ $P_2(7|-1)$ ب ـ $P_1(-8|1)$ $P_2(2|-3)$

پ ـ $P_1(4|3)$ $P_2(-7|-1)$ ت ـ $P_1(4|2)$ $P_2(-4|-4)$

څلورم -

لاندې مساوات په x پسې حل کړئ.

الف ـ $x-5=9$ ب ـ $8+x=25$ پ ـ $x-\frac{2}{3}=\frac{3}{4}$ ت ـ $\frac{5}{9}=x-\frac{1}{3}$

ټ ـ $88=4x-16$ ث ـ $a+bx=3b+a$ ج ـ $8-(x+5)=2$ چ ـ $9+(5-x)=6$

پنځم –

د وړوکتون ښوونکي او ښوونکی د زړه له کومې د مارکې ،، برینمن نمره 1 ،، کافي چښي. دا ا وس د بوتل زخیره 1,8 kg دانې ده. د اونۍ 350 g د کافي دانې د ماشین لپاره اړتیا شته.

الف – د تابع برابرون ولیکئ، چې دا عمل روښانه کوي.

ب – له کوم وروسته د کافي زخیره پای ته رسیږي.

پ – د کافي فرمایش پسې باید ورکړ شي، که د کافي بوتل 400 g پاتې ولري. دا حالت به کله وي؟

ت ـ په یوه مناسب پروتولاړ سیستم کې د تابع ګراف رسم کړئ.

شپږم –

یو موټروان A په 8:00 بجو له کندهار څخه د ننګرهار په لور خوزي.

په همدې وخت کې موټروان B له ننګرهار څخه د کندهار په لور خوزي.

د کندهار څخه تر جلال اباد دې د سرک اوږدوالی 750 km و(توکلي؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټروان A د 120 km/h منځنۍ چټکتیا سره ځي، موټروان B د 150 km/h منځنۍ چټکتیا سره ځي.
په سرک دواړه موټروانان کله او چیرته سره مخامخ کیږي؟
د دې حالت څخه یوه سکیڅي جوړه کړه او وشمیره
(لارښود: پروت =د وخت محور او ولاړ= د لار محور)
اوم - د یوه بارانمرتبان چې توتهبنه د $1\ m^2$ بنسټ سطحي سره لري په ساعت کې 80 لیتره باران ورځي.
الف - د وخت t په واکوالي کې ډکجګوالی h روښانه یا تشریح کړی، که په مرتبان کې له پخوا 150 ($t = 0$) لیتره وي..
ب - د h او t ترمنځ اړیکې کربنیزې دي، که مرتبان خیټور یا د غونډوسکې په بڼه وي، نو؟

ځوابونه

کربنیز توابع VII

مفصل ځوابونه یا حلونه
لومړی::



(c) ketabton.com: The Digital Library

ت

$f(x) = 3x - 6$



پ

$f(x) = \frac{3}{4}x - 3$



دویم: الف-

$f(x) = a_1x + a_0$

$a_1 = 1$

$\Rightarrow f(x) = x + a_0$

$P(3 \mid 4) : f(3) = 4$

$\Leftrightarrow 3 + a_0 = 4 \mid -3$

$\Leftrightarrow a_0 = 1$

$\Rightarrow \boxed{f(x) = x + 1}$



$f(x) = a_1x + a_0$

$a_1 = -1$

$\Rightarrow f(x) = -x + a_0$

$P(-8 \mid 1) : f(-8) = 1$

$\Leftrightarrow -(-8) + a_0 = 1 \mid -8$

$\Leftrightarrow a_0 = -7$

$\Rightarrow \boxed{f(x) = -x - 7}$



ب-

(c) ketabton.com: The Digital Library

پ -

$$f(x) = a_1 x + a_0$$
$$a_1 = \frac{1}{2}$$
$$\Rightarrow f(x) = \frac{1}{2}x + a_0$$
$$P(4\,|\,3) : f(4) = 3$$
$$\Leftrightarrow \frac{1}{2} \cdot 4 + a_0 = 3\,|-2$$
$$\Leftrightarrow a_0 = 1$$
$$\Rightarrow \boxed{f(x) = \frac{1}{2}x + 1}$$



ت –

$$f(x) = a_1 x + a_0$$
$$a_1 = -\frac{1}{2}$$
$$\Rightarrow f(x) = -\frac{1}{2}x + a_0$$
$$P(-4\,|\,3) : f(-4) = 3$$
$$\Leftrightarrow -\frac{1}{2} \cdot (-4) + a_0 = 3\,|-2$$
$$\Leftrightarrow a_0 = 1$$
$$\Rightarrow \boxed{f(x) = -\frac{1}{2}x + 1}$$



دریم:

الف –

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$f(x)=a_1x+a_0\ ;\ P_1\left(\underbrace{3}_{x_1}\mid\underbrace{4}_{y_1}\right)\ ;\ P_2\left(\underbrace{7}_{x_2}\mid\underbrace{-1}_{y_2}\right)$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{-1-4}{7-3}=-\frac{5}{4}$$

$$\Rightarrow a_1=-\frac{5}{4}$$

$$\Rightarrow f(x)=-\frac{5}{4}x+a_0$$

$$P_1(3\mid 4):f(3)=4$$

$$\Leftrightarrow -\frac{5}{4}\cdot 3+a_0=4\mid+\frac{15}{4}$$

$$\Leftrightarrow a_0=\frac{31}{4}$$

f(x)



x

$$\Rightarrow \boxed{f(x)=-\frac{5}{4}x+\frac{31}{4}}$$

ب-

$$f(x)=a_1x+a_0\ ;\ P_1\left(\underbrace{-8}_{x_1}\mid\underbrace{1}_{y_1}\right)\ ;\ P_2\left(\underbrace{2}_{x_2}\mid\underbrace{-3}_{y_2}\right)$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{-3-1}{2-(-8)}=-\frac{2}{5}$$

$$\Rightarrow a_1=-\frac{2}{5}$$

$$\Rightarrow f(x)=-\frac{2}{5}x+a_0$$

$$P_2(2\mid -3):f(2)=-3$$

$$\Leftrightarrow -\frac{2}{5}\cdot 2+a_0=-3\mid+\frac{4}{5}$$

$$\Leftrightarrow a_0=-\frac{11}{5}$$

f(x)



x

$$\Rightarrow \boxed{f(x)=-\frac{2}{5}x-\frac{11}{5}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

پ-

$$f(x)=a_1x+a_0\ ;\ P_1\left(\underbrace{4}_{x_1}\mid\underbrace{3}_{y_1}\right)\ ;\ P_2\left(\underbrace{-7}_{x_2}\mid\underbrace{-1}_{y_2}\right)$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{-1-3}{-7-4}=\frac{4}{11}$$

$$\Rightarrow a_1=\frac{4}{11}$$

$$\Rightarrow f(x)=\frac{4}{11}x+a_0$$

$$P_1(4\mid 3):f(4)=3$$

$$\Leftrightarrow \frac{4}{11}\cdot 4+a_0=3\mid -\frac{16}{11}$$

$$\Leftrightarrow a_0=\frac{17}{11}$$

f(x)



x

$$\Rightarrow \boxed{f(x)=\frac{4}{11}x+\frac{17}{11}}$$

ت-

$$f(x)=a_1x+a_0\ ;\ P_1\left(\underbrace{4}_{x_1}\mid\underbrace{2}_{y_1}\right)\ ;\ P_2\left(\underbrace{-4}_{x_2}\mid\underbrace{-4}_{y_2}\right)$$

$$a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{-4-2}{-4-4}=\frac{3}{4}$$

$$\Rightarrow a_1=\frac{3}{4}$$

$$\Rightarrow f(x)=\frac{3}{4}x+a_0$$

$$P_1(4\mid 2):f(4)=2$$

$$\Leftrightarrow \frac{3}{4}\cdot 4+a_0=2\mid -3$$

$$\Leftrightarrow a_0=-1$$

f(x)



x

$$\Rightarrow \boxed{f(x)=\frac{3}{4}x-1}$$

څلورم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف - $x-5=9\,|+5 \Leftrightarrow x=14 \Rightarrow \boxed{L=\{14\}}$

ب - $8+x=25\,|-8 \Leftrightarrow x=17 \Rightarrow \boxed{L=\{17\}}$

پ - $x-\frac{2}{3}=\frac{3}{4}\,|+\frac{2}{3} \Leftrightarrow x=\frac{9}{12}+\frac{8}{12}=\frac{17}{12} \Rightarrow \boxed{L=\left\{\frac{17}{12}\right\}}$

ت - $\frac{5}{9}=x-\frac{1}{3}\,|+\frac{1}{3} \Leftrightarrow \frac{5}{9}+\frac{3}{9}=\frac{8}{9}=x \Rightarrow \boxed{L=\left\{\frac{8}{9}\right\}}$

ټ - $88=4x-16\,|+16 \Leftrightarrow 104=4x\,|:4 \Leftrightarrow 26=x \Rightarrow \boxed{L=\{26\}}$

ث - $a+bx=3b+a\,|-a \Leftrightarrow bx=3b\,|\,b \Leftrightarrow x=3 \Rightarrow \boxed{L=\{3\}}$

ج- $8-(x+5)=2\,|-8 \Leftrightarrow -(x+5)=-6\,|:(-1) \Leftrightarrow x+5=6\,|-5 \Leftrightarrow x=1 \Rightarrow \boxed{L=\{1\}}$

ح - $9+(5-x)=6\,|-9 \Leftrightarrow 5-x=-3\,|-5 \Leftrightarrow -x=-8\,|\cdot(-1) \Leftrightarrow x=8 \Rightarrow \boxed{L=\{8\}}$

پنځم – الف - اووښتونې یا متحوله x د اونۍ په معنا ده

y=f(x) د کافي ذخیرې په معنا ده.

$f(x)=a_1x+a_0$ د کربنیز مساوات تولیزه بڼه

اونۍ 0 :	$f(0)=-0,35\cdot 0+1,8=1,8$
اونۍ1 :	$f(1)=-0,35\cdot 1+1,8=1,45$
اونۍ2 :	$f(2)=-0,35\cdot 2+1,8=1,1$
.....	.....
اونۍx :	$f(x)=-0,35\cdot x+1,8$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کافي ذخیري د کمیدو لپاره تابعمساوت
ب - د کافي ذخیره لګیدلي معنا لري:

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -0,35x + 1,8 = 0 \mid -1,8$$

مساوات دي د x پسي حل شي.

$$\Leftrightarrow -0,35x = -1,8 \mid : (-0,35)$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{180}{35} = \frac{36}{7} \approx 5,143$$

د نږدي ۵ اونیو وروسته نوره کافي نه شته.
پ – فقط 400g کافي پاتي ده په دي معنا چې:

$$f(x) = 0,4 \Leftrightarrow -0,35x + 1,8 = 0,4 \mid -1,8$$
$$\Leftrightarrow -0,35x = -1,4 \mid : (-0,35)$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{140}{35} = \frac{28}{7} = 4$$

د څلو اونیو ورسته نوره فقط 400g کافي پاتي ده.
ت- د کښته ژباړه: له بورته کښته: ډېرۍ په کیلو ګرام، وخت په اونۍ



(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم:



پروتولاړ سیستم کې:کندهار او ننګرهار د مونشن او هامبورګ لپاره لیکل شوي دي.

د یوه نږدې 2,77 ساعته تلنوخت وروسته دواړه موټرونه د 333,333 km کندهار څخه لرې او 416,666 km د ننګرهار څخه په واټن کې سره مخامخ کیږي

موټروان A :SA(t) = VA.t

کربنه له VA جګوالي سره

موټروان : دلته د لار-وخت قانون یوه کربنه ده د کمیز یا منفي جګوالي سره چټکتیا هم د جګوالي لپاره یوه کچوني اندازه ده.

$$s_B(t) = -v_B \cdot t + 750$$

د دواړو ګرافونو غوڅټکی نتیجه راکوي.

$$s_A(t) = s_B(t) \Leftrightarrow v_A \cdot t = -v_B \cdot t + 750$$
$$\Rightarrow t = \frac{750}{v_A + v_B} = \frac{750}{270} = \underline{\underline{2,\bar{7}\ h}}$$

A لاندې لار وهلې

$$s_A\left(\frac{750}{270}\right) = 120 \cdot \frac{750}{270} = \underline{\underline{333,\bar{3}\ (km)}}$$

B لاندې لار وهلې

$$s_A\left(\frac{750}{270}\right) = 150 \cdot \frac{750}{270} = \underline{\underline{416,\bar{6}\ (km)}}$$

اوم –

الف- د توتې ډکی یا حجم :

$$V = G \cdot h \Leftrightarrow h = \frac{V}{G} \quad G = 1m^2 = 100\ dm^2 \quad 1Liter \triangleq 1dm^3$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تابع مساوات د ډکي تغیر لپاره: $V(t) = 80\ \frac{dm^3}{h} \cdot t + 150\ dm^3$

شمېرنه بې له یوونون یا واحدونو صوررت نیسي، نتیجې په دیسي متر.

$$h(t) = \frac{V(t)}{G} = \frac{80 \cdot t + 150}{100} = \underline{\underline{0,8 \cdot t + 1,5}}$$

ب - د پرسیدلي یا غونډوسکې ډوله ډکوالي جګوالی د وخت سره کربنیز تغیر نه خوري.

پوښتنې

کربنیز مساوات XV

لومړی –

پنځم – دا پوښتنه د مخه راغلې او دلته تکرار ده؟؟؟؟؟ ځواب یې هم شته.
د وړوکتون ښوونکي او ښوونکی د زړه له کومې د مارکې ،، برینکمن نمره 1 ،، کافي چې. دا ا وس د بوتل زخیره 1,8 kg دانې ده. د اونۍ 350 g د کافي دانې د ماشین لپاره اړتیا شته.
الف – د تابع برابرون ولیکی، چې دا عمل روښانه کوي.
ب – له کوم وخت وروسته د کافي زخیره پای ته رسیږي؟
پ – د کافي فرمایش پسې باید ورکړ شي، که د کافي بوتل 400 g پاتې ولري. دا حالت به کله وي؟
ت - په یوه مناسب پروتولاړ سیستم (کواوردینات سیستم) کې د تابع ګراف رسم کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم: توبي او مري په یوه بیارغړني روغتون کې کار کوي او برابر معاش لري. په دې وخت کې باید دواړه زیا تکاري وکړي. د میاشتې په اخر کې دوی خپل معاشونه سره پرتله کوي. د توبي معاش بې له مالیا € 3559، د ماري € 3223 . توبي په روانې میاشت کې43 ساعته زیات کار کړي، ماري معکوساً فقط 27 ساعته کار کړي. بنسټ معاش وشمیرئ او د زیات وخت ټول معاش.

دریم: د جلالکوټ ژوبن د،، کولاخرس،، د وښو ذخیرې اوتومات د ورځې 7,5 kg د حیواناتو وښو ته اړتیا لري، دولس ورځې وروسته له هغط چط د وښو ذخیه ډکه شوې، په ذخیره کط تراوسه 250 kg شته.

الف- یو تابعمساوات ولیکی، چې داشي حالت تشریح کوي او دط ته اړوند ګراف په یوه مناسب پروتولاړ یا کواوردینات سیستم کې وکاږی.

ب- کومه ډېرې یا ستټ باندې دا ذخیرهځای دولس ورځې د مخه ډک شوی وو؟

پ- په به دا بیرته هغه په کې ورکړشوي شتون باندې بیرته ډک شي. دا کله غوښتونی دی؟

څلورم: د ،،تلفونچوپړ مغازه،،(HB) هره د خبرو دقیقه € 0,06 قیمت لري، چط د میاشتې بنسټ نرخ € 8,50 وي..

د ،، ارزان ملفون،،(HB) شرطونه دي: هره دقیقه€ 0,08 ، د میشاتي بنسټنرخ € 5 سره.(یوه څېره رسم کړې).

الف- له څو دقیقو وروشته د دواړو ملفونونو لګښت برابر دی؟

ب- تاسو د میاشتې € 25 په اختیار کې لرې(نیا پیسې ورکوي).

کوم چوپړ غواړط او دا ستا د خوښط تلفونمغازط سره څومره اوږد تلفونکړی شي؟

پ- د الف او ب نتیجط په پرونولاړ یا کواوردینات سیستم کط انځور کړې.

پنځم –

(c) ketabton.com: The Digital Library

په يوه هوټل کي د لمبا کوټي د ګرمو اوبو چمتووالی لپاره د بريښنايي تيلګرمۍ ماشين اينبرل شوی. € 25000 د نرژی کلني لګښت راځي. د لرګرمۍ له لارې يوځلي € 50000لګښت راځي. په دې پسې د رنژی لګښت فقط € 5000 په کال دی.

الف – په کوم وخت کي دا پيسې ځای نيسي؟ د دې وخت لپاره لګښت څومره دی؟

ب – د دې ګراف وکاږئ.

شپږم –

له ګنيو څخه پوره يا ګوړه جوړيږي(د ګنيو او خوړې ترمنځ کرښيزې اړيکې وړاندنيونه ده) يو د تابع ترم f (x) تشريح کوي، چې څومره کيلوګرامه خوړه د x kg څخه لاس ته راځي.

الف – د تابع ترم f (x) وټاکئ.

ب – وشميرئ: $f(100); f(250); f(x) = 25$

پ – د f (x). ګراف وکاږئ.

اوم –

سپين همدا اوس د طب درس په بري پای ته ورساوه او طبي بدلونپروګرام کي برخه اخلي. دا د يوه کال لپاره USA ته ځي. پع المان تودوخي په درجه څلزيوس[^{0}C] او امريکاکي په فارنهايټ [^{0}F]کچيږي. سپين او خړ له درس څخه پوهيږي، چې د دواړو تودوخيو ترمنځ يو کرښيز ه اړيکه شتون لري او $0\ ^0C$ د $32\ ^0F$ تودوخي او $100\ ^0C$ د $212\ ^0F$ تودوخي ده. دوی د يوه تابع برابرون ته اوتيا لري، چې دوی دا تودوخي زر په هغه خپل ورسره بلده درجه واړولی شي.

الف – د سپين لپاره يو تابع مساوت وضعه کړئ، چې له^{0}F څخه په ^{0}C شمېربدلون اجازه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب- د خړ لپاره یو تابع مساوت وضعه کړی، چې له ^0F ^0C څخه په ^0F شمېربدلون اجازه ورکوي.

پ – په یوه د لمبا اخور کې تودوخي ^0F 95 ده، دا څومره ^0C وه؟

ت – د د یوه تن تودوخی ^0C 40 تبه ټیټېدونکي کار باید سر ته ورسیږي. دا په ^0F کومه تودوخي ده؟

حلونه

کربنیز توابع XV

نتیجې او مفصل حلونه

